# څه ډول د کتابخانی غړی جوړیدی شی

کتابخانی ددوستی، هرکلی ځایونه دی، او تاسو د هغوی څخه وړیا استفاده کولی شی. هر کس په کتابونونظر اچولی شی یا پکی مطالعه کولی شی، یا کړی شی چی د ماشومانو سره په هغو پیښو کی ګډون اوکړی کوم چی کتابخانی د ځوانانو خلکو لپاره تشکیلوی، یا د کتابخانی د کمپیوټر څخه استفاده اوکړی حتی ددغه شیانو څخه د استفادی لپاره غړیتوب ته هم اړتیا نه لری.

ولی غړی جوړ نه شی؟د دغی کوم قیمت نیشته، او بیا تاسو کولی شی چی په پور کتابونه تر لاسه کړی، په کرایه سی ډیګان، ډی وی ډیګان او اډیو ټیپونه هم رانیوی شی. تاسو فقط د خپل نوم او په ډیون کی د ادرس په حقله مونږ ته ثبوت راکړی ( د مثال په توګه: د بانک سټیټمنټ، یا دکرایی موافقه، یا د برق ، ګاز یا تیلفون صورتحساب یا ستاسو طبی کارت) . که تاسو فقط د یو لنډ وخت لپاره په ډیون کی پاتی کیږی ، په هغه حالت کی هم مونږ ستاسو د کور دادرس په حقله ثبوت ته اړتیا لرو ( د مثال په توګه د موټروانی اجازه لیک، دپیژندنی کارت،یا پاسپورت).
که تاسو تحصیل کوی نو ستاسو ښوونځی یا پوهنځی کولی شی چی تاسو له د کمک په توګه د دوانړو ادرسونو په حقله خط در کړی. او تاسو خپل ماشومان هم ددی غړی جوړولی شی دا ډول هغوی به جوګه شی چی د کتابخانی څخه په پور کتابونه او د کیسو فیتی تر لاسه کړی ختی کوچنی ماشومان هم د کتابخانی غړی جوړیدی شی.

تاسو له به ټکټ درکړی شی، د ټکټ او هغه شیانو سره د کتبخانی حساب لرونکو ته د هغه شیانو سره ورشی کوم چی تاسوپه پور اخیستل غواړی. په پور د کتابونو اخیستل وړیا دی، او په عادی توګه تاسو د 21 ورځو پوری کتابونه لرلی شی.د سی ډی، ویډیو، ډی وی ډی او اډیو ټیپونو لپاره د اونیزی په حساب سره کرایه مقرر ده. ستاسو د پیژندنی په پاڼه چی کومه ټاپه لګول شوی ده لطفاًدهغی په اخیرنی نیټه شیان بیرته ورکړی دغه د کتابخانی د شمیرونکو یو غړی ته حواله کړی. که تاسو دغه ناوخته بیرته راوړی، تاسو به ختماً ددغی لږه غونده جریمه ورکوی. که تاسو غواړی چی دنورو 21 ورځو لپاره کتابونه د ځان سره اوساتی، فقط غوښتنه اوکړی ځواب په عادی توګه مثبت دی.

ستاسو په اولنی راتګ کی، تاسو دوه کتابونه په پور اخیستی شی، او دوه سی ډیګان یا اډیو ټیپونه، او دوه ویډیوګان یا ډی وی ډیګان په کرایه لاس ته راوړی شی. ددغی نه وروسته، تاسو په پور یا په کرایه ددغی شمیری څخه دوه ځله زیات اخیستی شی. که تاسو د لنډ وخت لپاره ډیون کی پاتی کیږی( د مثال په توګه د رخصتی په ورځ)، تاسو به ددی جوګه ې چی په خپل اولنی راتګ کی د کتابخانی څخه 2 کتابونه په پور واخلی او ددغی څخه وروسته څلور کتابونه اخیستی شی.

هر هغه شی چی د کتابخانی څخه اخلی د هغی مسولیت ستاسو دی له دی کبله د کتابخانی خپل کارت یا د کتابخانی کوم شی بل چا ته مه ورکوی.

که تاسو د کتابخانی په حقله کومی پوښتنی لری، یا تاسو ناتوانه ې او ځمونږ له طرفه د مرستو معلومولو هواهش لری، لطفاً په کتابخانه کی غوښتنه اوکړی. یا مونږ ته په دی ادرس devlibs@devon.gov.uk ای میل راواستوی، یا خپلی ځایی کتابخانی ته تیلفون اوکړی ( نومبری د تیلفون په کتاب کی یا ځمونږ په دی ویب سایټ دی
www.devon.gov.uk/library
تاسو به اوکړی شی چی ددی پاڼی په بل مخ، په ډیون (Devon) کی د کتابخانی د کمپیوټرونو د استعمال په حقله معلومات تر لاسه کړی.

DEVON COUNTY COUNCIL

**Devon Library and Information Services**
www.devon.gov.uk/library

Pusthu
پښتو
No: 19

*لطفاً ددی پاڼی بل مخ لومړی اوګوری!*

## د کتابخانی د کمپیوترونو څخه څنګه استفاده کولی شی

تاسو د کتابخانی کمپیوترونه د انټرنیټ ، د انتر نیټ ای میل، ورډپروسسنګ، سپریډشیټ ، د انټرنیټ دلاری د معلوماتو لاس ته راوړنی او نورو شیانو لپاره استعمالولی شی.

د کتابخانی د کمپیوتر څخه د استفادی لپاره باید چی تاسو د کتابخانی ټکټ اولری. که تاسو نه غواړی چی غړیتوب تر لاسه کړی ددی لپاره یو بل ټکټ شته دی چی تاسو ته د کتابخانی د کمپیوتر څخه د استفادی کولو حق درکوی خو په پور (قرض)د شیانو د لاس ته راوړنی حق نه لری. لطفاً د کتابخانی د شمیرونکو څخه پوښتنه اوکړه.

کله چی تاسو ټکټ اولری، په ځینی کتابخانو کی هغه کمپیوتر ته ورتلی شی په کوم چی **Self Service** لیکل شوی وی د خپل ټکټ نومبره ټایپ کړی، او د کمپیوتر استعمال پیل کړی. په نورو کتابخانو کی د وړاندی څخه د حسابلرونکو کارمندانو نه غوښتنه کولی شی چی ستاسو لپاره کمپیوتر اوساتی.

د پیل کولو څخه وړاندی تاسو باید چی څمونږ د تللاری سره د خپلی رضامندی په اړه ټک تیر کړی. په ځانګړی توګه، تاسو باید چی د قانون په حدودو کی پاتی شی او دا هڅه اونکړی چی غیر قانونی یا د بربنډ وموادو ویبسایټونه اوګوری. د انټرنیټ او ای میل استعمال ثبتیګی او د نظر لاندی ساتل کیږی، او که د کمپیوتر د غلط استعمال په اړ څمونږ په چا شک راغی نو مونږ ې کتلی شو.
کله چی تاسو کار سر ته اورسولو، لطفاً پورته دپردی کیڼ لاس ته په **End session** ټک تیر کړه.

هر نفر کولی شی چی په ورځ کی یو ځل د 30 دقیقو پوری د کمپیوتر څخه وړیا استفاده اوکړ. که تاسو په دغه ورځ زیات وخت کار کول غواړی، تاسوباید چی د اضافی هر 30دقیقو لپاره £ 1.50 ورکړی.

د توری او سپینی پاڼی د چاپولو قیمت 12 P دی او د رنګداری پاڼی £1 دی. ټول چاپ شوی مواد په کتابخانه کی د شمیرونکو په ځای کی د چاپ یو ماشین ته استول کیږی. کله چی ستاسو وخت پای ته اورسیګی لطفاً د کارمندانو په ځای کی د خپلو چاپ شوو موادو په حقله غوښتنه اوکړی.

که تاسو خپل کار ساتل غواړی، په فلوپی ډسک ې خوندی کړه. تاسو څمونږ څخه یو په پیسو اخیستلی شی.

که ستاسو عمر د 16 کالو نه کم دی ، تاسو نه شی کولی چی د ای میل څخه استفاده اوکړی، او انټرنیټ فقط په هغه حال کی استعالولی شی ( ځینی محصوص انتخاب شوی ویبسایټونه استثنا دی) کله چی ستا مور او پلاریاساتونکی په هغه فورمه امضاء اوکړی کومه چی دداسی کولو اجازه ورکوی. که تاسو د ای میل استولو اړتیا لری، تاسو د هغه نفرڅخه غوښتنه اوکړی د چا سره چی پاتی کیږی یا د روزونکی څخه غوښتنه اوکړی که هغوی هواهش لری چی درسره کمک اوکړی نو کولی شی چی د بالغانو لپاره د خپل کارت څخه استفاده اوکړی او ستا سوسره په کمپیوتر کینی.

که تاسو په ماضی کی د کمپیوتر څخه کار نه وی اخیستی، د کتابخانه کارمندان د پیل کونکو لپاره د تربیاتی کورس په موندلو کی ستاسو مرستی کولی شی – عموماً دغه کورسونه وړیا وی. که تاسو د کمپیوتر په استمال پوهیګی خو غواړی چی د انټرنیټ د استعمال په حقله پوهه لاس ته راوړی، کولی شی په کتابخانه کی د انټر نیټ د لاری په کورس(دوره) زیار اوباسی.